مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۲/۱۱

# د پوهاند دوکتور بهاالدین مجروح دريِ دېرشم تلین

**چي دي توان رسي په لوی دریاب کي ګرځه**
**پــه بيـلــه کــي دې زوال ويـــنـــم نــهــکـــه**

(خوشحال ختک)




پوهاند ډوکتور بهاالدین مجروح:
پوهاند، فیلسوف، شاعر، مورخ ، دیپلومات ، لیکوال او سیاستپوه،
زوکړه: ۱۹۲۸ م کال د فبرورۍ پر ۱۲ نېټه، کنر، افغانستان،
مړینه: د ۱۹۸۸ م کال د فبروری ۱۱ نېټه، پېښور.

**مجروح سره د انسان ویر و او په دې ډاربده، چي انسان د بې خبری په خوب ویده پاتې نه شي، که همداسي ویده پاتې شي، توري لښکرې به راشي، پر ښار به مسلطې شي او د انسان تر راویښېدو پورې به ښار کنډواله وي.**

**د مجروح غږ چا وانوريد، همداسي وشول، توري لښکرې راغلي، ایګو خان د ښار واکدار شو او ښار په کنډواله بدل شو، مجروح هم د تورو تیارو استازو، د ګور تیارو ته ولیږه او دا دی ویر یې دوه دېرش کلن شو، خو افکار يې تاند او زلمي ګرځي راګرځي او د پوهې نوی لښکر جوړوي.**

(آصف بهاند)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

بهاالدین مجروح د تفکر د سمندر ستر نهنګ و، د همدې له پاره په ویالو کې ګرځېدای نه شو، ورو فکرونو سره يې کار نه و؛ بلکې د تولنې او خلکو په باب يې داسې ژور او لوی فکر درلود چې، په پرون ـ نن او سبا په سمه توګه پوهېده، داسې پوهېده لکه په هنداره کې چې سړی ځان ويني، ده خپله راتلونکې تولنې همداسې ليدله. ده خپله تولنه ژوره او ښه تحليل کړې ده او د «ځانځاني ښامار» په هنداره کې يې ښه ځلولې ده.
ما يو کال پخوا د ده د دوه دېرشم تلين په پار د يوې مقالې په ترڅ کې خپل نظرداسې ليکلی و:

**مجروح سره د انسان وير و او په دې ډارېده، چې انسان د بې خبرۍ په خوب ويده پاتې نه شي، که همداسې ويده پاتې شي، توري لښکرې به راشي، پر ښار به مسلطې شي او د انسان تر راويښېدو پورې به ښار کنډواله وي.**

**د مجروح غږ چا وانورېد، همداسې وشول، توري لښکرې راغلې، ايګو خان د ښار واکدار شو او ښار په کنډواله بدل شو، مجروح هم د تورو تيارو استازو، د ګور تيارو ته ولېږه او دا دی وير يې دوه دېرش کلن شو، خو افکار يې تاند او زلمي ګرځي راګرځي او د پوهې نوی لښکر جوړوي.**

درې دېرش کاله کېږي چې د افغانستان، سيمې او نړۍ په فرهنګي کړيو کې د مجروح ځای تش دی، خو د ده اثار او افکار، د ده ښه استازولي کوي او په هرکور، هر محفل او هر فکر کې ځوان او تاند ګرځي او د نوي نسل لارښوونه کوي.

د ده ارواح دې ښاده وي او ياد خو يې ځکه تلپاتې دی چې اثار يې تلپاتې دي. دلته به د مجروح له ځانځاني ښامار څخه د ده د فکر او کلام داسې يوه بېلګه را واخلم چې په دې بېلګه کې د داسې تولنې کيسه کوي چې په هغې تولنه کې هر څه سم او ښه دي، ايګوخان او ايګوييزم لا نه دي راغلي او په انساني تولنه کې ښکلی ژوند روان دی:

## يو جنت خاوريو، خاورين

**وايي: دلته پخوا ښکلی ښايسته ښار و**

**اروازه يې د ښايست خپره هرلوری**

**سياحان به له دې ځايه تېرېدل تل**

**شپه او ورځ به يې مزل کړو**

**په ځنګلو، په چمنو کې، د سيندونو رودخانو پر غاړه، غاړه**

**ځرېدل به ګرځېدل به مست وحشي اسان هر خوا ته**

**بې له داره بې له قيده**

**غرځنی به وي رواني، شنو دښتو کې**

**بيا به تللې نږدې ښار ته**

**ماشومانو سره يو ځای لوبېدلې**

**له سهاره تر ماښامه**

**د توتيانو د بلبلو چغهار و په درو په سر درو سمسور باغو کې**

**انسانانو لا زده نه و، د پنجرو د جوړو چل**

**ښار بې در بې دروازې و**

**نه خندق نه کوم دېوال ترې نه چاپېر و**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ښکلي، ښکلي وو کورونه اباد شوي**

**ګڼ باغو شنو چمنو کي**

**لويي لارې هر خوا تللي**

**سيند پر غاړه شنو دښتو ګورو ځنګلو کي**

**ځوانو پېغلو به دا ښار سمبالولو**

**يا به ناستي له زلمو سره غېږ په غېږ وې**

**سيند پر غاړه په بېشو کي**

**راز و نياز د محبت و**

**ښکلول وو، ځغلول وو**

**او سپينږيري مشران به**

**دېرو کي د چنار سيوري ته ناست وو**

**تدبيرونه، مرکي وې، مشورې وې**

**ماشومان به شور زوږ کړو**

**خړپېدل به په اوبو کي**

**لوبېدل به يا د دښت د غرڅنو سره**

***

**که به څوک اخته په قهر په غضب شو**

**يا به زړه د چا غمجن شو**

**په دې رنځ اخت رنځور و، هم به يې ځان رنځور ګاڼه**

**په دې ښار کي هم يو پوخ حاذق حکيم و**

**د دې هسي رنځورانو يې علاج کړو.**

***

**انسانانو لاموندلی چېرې نه و**

**غلامی د باداری چل**

**په دې ښار کي، نه هېڅوک د چا مريې و نه بادار و**

**وينځه نه وه، بي بي نه وه، فرماندار نه و**

**فرمانداره حقيقي په هغه ملک کي**

**يک يوازې ماشومان وو**

**څکه ـ څکه خلکو دا شاني باور و**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**چې کوچنیان له طبیعت سره نږدې دي**

**د عالم پټ، پټ رمزونو نه خبر دي**

**رښتیا هم چې ماشومان به پوهېدل ښه**

**په خبرو د مرغانو ځناورو**

**د دښتو غرونو رغونو،**

**دریابونو. ځنګلونو،**

**ارواګانو سره اشنا وو**

**دوی خبر وو چې پرته ده چېرته پټه**

**توره سمڅه هیبتناکه، ناپایانه**

**رمز اسرار د مغارې ورته معلوم وو**

**نو دا ځکه په مهم، مهم کارو کې**

**د کوچنیانو نظریې ته درناوی وو**

**د کوچنیانو په مسلات به،**

**غټ کارونو کې تکل شو**

**نو دا ځکه کله، کله**

**مشران او ماشومان به غونډېدل ټول**

**د چنار تر سیورې لاندې په دېره کې**

**په خندا، خندا په لوبو**

**غټې، غټې فیصلې به شوې رواني...**

(مجروح پوهاند ډوکتور، ځانځاني ښامار، خپرندوی: کابل پوهنتون، ۱۹۹۵ ل ــ ۲۰۱۷ ز، ۸۰ ـ ۸۲ مخونه)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ